

د ۱۳۸۹ کال په ټاکنوکي

د کابل ولایت څخه ولسی جرگی ته مستقل کاندید

# دوکتور اصغرخیل منگل

## لنډه پیژندنه



نشان انتخاباتی

٦٨

شماره انتخاباتی

شماره تماس:0785545267

دوکتـور اصـغرخیل مـنگل د ۱۳۳۲ کـال د جنگاس د میاشتي په ۱۵ نیته د پکتیا ولایت د جاني خیلـو پـه ولسـوالـي د مندتي په کلي کي زیږدلی دي.

پـلاریې مرحوم وردگ خان د جانی خیلو د قوم مشـر متـدین او پـه وطـن مین سړی و او لکـه د ستريِ پکتیا نور درانه مشران د خاوری او خلکو خدمتگارو.

دوکتـور اصـغرخیل مـنگل خپلی ابتدائی زده کـړی د جـانی خیلو په ولسوالی کی تر سره کړی او ۱۳۴۴ کـال کـی د خـوسـت پـه میخـانیکی ښـوونـځی کی شامل او ۱۳۴۷ کـال کی ددغـه ښـوونـځی د نهـم ټـولـگی څخه په لومړی درجه فارغ او د ځانگړی آزموینی په نتیجه کې د کابل پـه میخـانیکی ښـوونـځی (د انجنیر د معاون انستیتیوت) کی شامل شو.

دوکتـور اصـغرخیل منگل په ۱۳۵۱ کـال کی د پـورتـنی انستیتیوت څخه په عالی درجه فارغ او د مـزار شـریف د سـری او بـریښـنا په فابریکه کـی د تـرانسپـورت په مدیریت کی د فنی مامور په توگه په کار پیل وکړ.

پـه ۱۳۵۳ کـال کـی د کـابـل پـه پـولتخنیک انستیتیوت کی د کانکور تر آزموینی وروسته د تـحصیلی بورس نه په گټی اخستلو سره د لوړو تـحصیلاتو لپاره شوروی اتحادته واستول شو او هـلته د مسکو د ترانسپورت او سړك جوړولو په دولتـی پـوهـنتون کی په زده کړی بوخت شو. په ۱۳۵۸ کال په مسکو کی د افغانستان په سفارت کـی دلـمړی سـکـرتر او قونسل په توگه وگمارل شو. وروسته بیا په همدی کال کی د یو گوسلاو ایا مـرکـز بـلـگراد کی د افغـانستـان د سفـارت د شارژدافیر په توگه مقرر شو.

پـه ۱۳۵۹ کـــال کـی د مسـکـو د تـرانسپـورت جـوړولـو د دولتـی پوهنتون څخه د ترانسپورت پـه ځانگه کې د ماستری د دیپلوم اخیستلو سره بیـرته هیواد ته راستون شو، او د عالی تحصیلاتو پـه وزارت کی د استاد په توگه مقرر شو. وروسته د همدی کال په پای کی د ترانسپورت د وزارت د پـلان د رئیس په توگه او بیا په ۱۳٦۴ کال کی د تـرانسپـورت د وزارت د مـعین په مقام مقرر شو. ده د هیـواد تـرانسپـورتی سیستم په جوړولو کی پـراخـه ونـډه واخستله او د ترانسپورت وزارت د نـورو صـادقو او پروطـن مینو کارکونکو د زیار په نتیجه کی په دیره لنډه موده کی ۱۸ ترانسپورتی بـنیـادونـه رامـنځته شول. په ۱۳٦۹ کـال کی د اسپیـر انتــوری د دوری د تـحـصـیـل لـپاره بیـا شـوروی اتـحـاد ته ولاړ او پـه مسکو کی یی پـه هــمـاغــه پــوهــنتـون کــی چــی پخوایی تــری د تـرانسپورت انجنیری دیپلوم لاسته راوړی وو د دوکتورا (Ph.D) د تیزس دفاع وکړه او په بریالی تـوگه د ۱۳۷۱ کـال پـه پیـل کـی بیـرتـه وطـن ته راستـون شـو. متـاسـفـانـه پـه هـمدی کال کی په هیـواد کـی د کورنیو جگړو په نتیجه کی د خپلی کورنۍ سره جرمنی ته مهاجر شو.

دوکتـور اصـغرخیل منگل په جرمنی کی په یوه تـرانسپورتی کمپنی کی پنځه کاله د عملیاتی او اجـرائیوی آمر په دول وظیفه تر سره کړه او په ۲۰۰۲ کـال کـی ئي د خپـلو ورونو سره یو ځای د جـرمـنی د هـامـبـورگ په ښار کی (د منگل بین الـمـلـلی ترانسپورتی او بارچالانی شرکت) جوړ کړ چی په ټوله نړۍ کی ځمکنی، بحری او هوایی انتقالات کوی.

دوکتـور اصـغرخیل منگل د خپل ترانسپورتی شـرکـت په امکاناتو څوځو ځله له جرمنی څخه افغانستان ته د مرستو په مالونو ډك کانتینرونه په وړیا دول افغانستان ته را انتقال کړی دی چی د بیـات دبـنیات، افغانی سرې میاشتی د هرات تـجـارت او صنایع د خونی له لوری په مستحقو افـغـانانو ویشل شوی. په همدی لړی کی د وطن پـالـنـی د احسـاس لـه مخـی د کـابل او هـرات پـوهنتونونو تـه کتابونه را استولی او همدا رازیی کـابـل کـی د (آشیـانـه) لـه خیریه ټولنی سره مرستی کړی دی.

دوکتور منگل د وطن پالنی له مخی له فرهنگی او ادبی ټـولـنـو سره پـه هیـواد کـی دننه او لـه افغانستان څخه بهرچی د افغانی شعر او ادب د خپـرولـو پـکـار بوخت دی زیاته مینه ښیی او په خلاص لاس یی مرسته ورسره کړی او کوی.

دوکتــور اصــغــر خیــل مــنـگـل د جـرمـنی د هــامـبـورگ پــه ښــار کی چی تر ۲٦۰۰۰ زیـات افـغـانان ژوند کوی د افغانانو د اتحادیی (افغانی ټـولـنـی) مشر دی چی د افغانستان د کلتوری و دی، د کوچنیانو لپاره د مورنی ژبی دزده کړی او د افـغـانی مهاجرینو سره د مرستی په منظور په ۱۹۹۸ کال کی جوړه شوی ده.

دی پـه پښتـو، دری، جـرمـنی او روسی ژبو پـه بشپړه تـوگـه پـوهیږی او پـه انگلیسی ژبـه هم خبـری کــولای شی. واده یی کـړی دی او دري اولادونه لری.

دوکتـور اصـغرخیل منگل د خلکو په غوښتونو او مـلاتـړ وطـن ته د خدمت لپاره او په ملی هلو ځـلـو او گډ سـرنـوشـت کـی د گډون لپاره ځـان دپـارلـمـانـی انتـخـابـاتو له لاری د ولسی جرگې غړی توب ته کاندید کړی دئ.

دئ غواړی په پارلمانی هلو ځلو کې په وطن کی د قومونو دوحدت، بیارغونې، اقتصادی ودی، له فسـاد سـره مبـارزه او دیو پیاوړی اداري درامنځ ته کولو په مقصد د پارلماني دموکراسی له لاری له وطن پالنکو او متدینو وطن دارانو سره ملاتړ وکړی.

دی بی لـه کـوم توکمیز، مذهبی، ژبنی او سیمیز تبعیض او توپیر څخه دکابل په ښار او ولایت کی لـه ټـولـو میـرمـنو او ښاغلو څخه غوښتنه کوی چی د انتخاباتو کارتونه واخلی او خپل د خوښی کاندید ته رأیه ورکړی.

دی وایـی کـه د کـابـل اوسیـدونکی مـا د خپل نـماینده په دول وټاکی، زه به ددی ویاړ لپاره خپل ټول امکانات ددوی د خیر ښیگڼی ته وقف کړم.